مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر ۲۰۲۳/۱۲/۲۶

# د انورالحق خوله یاني د پوځ خوله

د پاکستان پوځي حکومت او استخبارات چې څه ادعاوي يې لري ،نو هغه د ملکي حکومت د واکمنانو له خولې وباسي ، یعنی وینا د پوځ وي خو د انور الحق کاکړد پاکستان سر پرست صدر اعظم او یا د نورو د خولې وځي ،پوځ د پاکستان د تأسیس او جوړیدو نه راپدې خوا په هر ملکي حکومت کې لاس وهنه کړي ، یعنی هیڅ ملکي حکومت هم آزاد نه وو.

د پوځ په کې هر مرو مداخلت وو ،څو موده د مخه په یوه ویدیو کې منظور پشتین د پښتون ِغور ځنګ مشر د یو سوال په ځواب کې لنډه او خلص دا وینا کړې وه چې انورلحق کاکړ بی د پوځ د اجازې نه دودی هم نه شي خوړلی ، نو انورالحق کاکړ د پاکستان سر پرست صدراعظم څو ځلي د تر هګریزو حملو پړه او مسولیت په افغانانو او افغان حکومت واچوو ،چې دا هم د پوځ خبری وي چې د ده له خولې وتلې ،نو په دي توګه يې د مهاجرو د ایستلو له پاره ډیر بیرنی اقدام وکړ،چې افغان مهاجر وباسي او په یو کم فرصت کې يې ډیری افغان مهاجر له پاکستانه و ایستل ظاهراً خو په دي نامه چې بی اسناده او غیر قانونی خلک وباسو ، خو دا یوه مقدمه وه ، چې ورپسې به د قانونی اسنادو لرونکي خلک هم وباسي ،او د هغوي د استلو له پاره به دا ډرامه جوړوي ،نو ورو ورو اوس لاره د هغه قانونی اسناد لرونکو له پاره هم آواروي ،د راپورنو له مخې او ګڼ شمیر دوستانو له شکایتونو څخه چې رارسیږي ، او د پاکستان څخه اطلاع لرو هغه کسان چې قانونی اسناد هم لري هغوي د پولیسو له خوا ځورول کیږي او ډیری يې همدا اوس د پولیسو له غمه په کورو کې بندیان ناست دي.

د هغه خبر له مخې چې د نژدي دوستانو څخه يې لرو ډیری يې د خپلو کورنو څخه نه راووځي ،یعنی په کورونو کې بندیان دي ،همزمان د مهاجرو د ایستلو سره چې یوه لویه برخه يې ایستل شوي نو په پاکستان کې ډیر خونړي بریدونه د پولیسو په تاڼو او پر پولیسو وشول ،چې د ۲۰۲۳ روال کال د نومبر پر پنځمه د آمریکا غږ راډیو او ټلویزیون هم خپاره کړل ،نو په داسی یوحساس وخت کې دا بریدونه څوک کوي؟ د خپلې ناکامۍ پړه باید دوي د بل په اوږه وا نه چوي ،افغانانو ته خو هم کډې ورباړې شوی ،تر هګر خو هم تاسي وروزل ،او هر ملک کې چې ترهګر ونیول شو نو ریشه ای د پاکستانه څخه وخته ،تاسي د خپلو ملامتیا او کمزوری بارونه د بل په اوږه مه اچوئ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ